د۱۳۸۱ لمریز دغبرګولي ۱٦

# د افغانستان د بشری حقونو خپلواك کميسيون

د ښځود نړيوالې ورځې په اړه مطبوعاتي اعلاميه

کلبل د ۱۳۸۸ کال د کب ۱۵

د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون له دې انديښمن دی چې په هيواد کې د وسله والو شخړو له کبله ښځي د خپلو اساسی حقونو او په ځانګړي ډول ښوونې ته د لاسرسی د حقونو بی برخې دي د مدني ، سياسي ، ټولنيزو ، او اقتصادي حقونو څخه افغاني ښځي بی برخې دي او ډيری ښځي د نالوستي توب څخه ځوريږي د خپلو اساسي حقونو څخه ناپوهاوی د دي لامل شوي چې ښځې په خپلو کورونو او ټولنه کې په پراخه کچه د تبعيض سره مخ شي د دولت وسله والی مخالفی ډلي په سازمان شوي توګه د ښځو د زدهکړي سره مخالفت کوي په هغو سيمو کې چې کړکيچ په کې روان دی ۴۵۶ ښوونځي سوځول شويدي اوپه سلګونو نور ښوونځي د وسله والو مخالفو ډلو له ويری تړل شويدي د دولت نيګړی پاملرنه د دی لامل شوي چې همدا اوس ۶۰ سلنه [1] هغه انجونې چې سن يی د ښوونځي تلو له باره برابر دی د ښوونځيو څخه بی برخی پاتي دي به هيوادکې د ښځو پر وړاندی تاوتريخوالی د بشری حقونو د اساسي ستونزو څخه دی په کورنيو او ټولنه کې د ښځو پر وړاندي ډول ډول تاوتريخوالی لکه وژل، وهل ټکول ، د نفقی نه ورکول ،له کوره ايستل ، جنسي ځورونې د جنين اجباري ايستل ،په زور ودونه د ټولنيزو فعاليتونو څخه د هغوي مخنيوی او په بدو کې ورکول ثبت شويدي په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ښځو پر وړاندي د تاوتريخوالې ۲۲۶۹ پيښي ثبت کړيدي [2] د ښځو بر وړاندي د ډيرو ناوړو تاوتريخوالو څخه جنسی تيری دي د ۲۰۱۰ کال د جنوری به مياشت کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د جنسی تيرې ۸ پيښی ثبت کړي دي [3] او په همدي دوه هغه ښځي چې په ټولنيزو او سياسي برخو کې فعاله وې د نا پيژندل شويو کسانو له خوا وژل شويدي او د افغانستان دولت د پيښو دترسره کوونکو د موندلو په برخه کې بريالی شوي نه دی د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون په دي باور دی چې سوله او امنيت دبشري حقونو او عدالت راوستلو له پاره يو شرط دی او د سولی د هڅو د بهير څخه ملاتړ کوي خو کميسيون په دی باور دی چې د عدالت اصل بايد د سولي قرباني نه شي . د مخالفينو سره سوله بايد د دی لامل ونه ګرځی، هغه برياوي پرمختګونه چې د ښحو په برخه کې تر لاسه شوی د هغو مخې ته خنډ شي او په دي ډول د ښځو د سياسي او ټولنيزو فعاليتونو مخه ونيسي .

د ملګرو ملتو د امنيت شورا ۱۳۲۵ پريکړه ليک د هغو دولتو څخه چې د جګړي وروسته جوړيږي غوښتنه کوی چې ښځو ته بايد به ټولو برخو په ملی ،سيميزه او نړيواله کچه د هغوي د فعاليت زمينه برابره ، د جګړی د مخنيوي ميکانيزم او د شخړو د حل لاره تامين کړاي شي

[1] ملت ته د حکومت د حساب ورکولو ريپوټ – د بوهني برخه ۱۷۰ مخ
[2] د افغانستان د بشري حقونود خپلواک کميسيون د خبرتياو بانک
[3] د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کميسيون د خبرتياو بانک

تر اوسه د دي پريکړي څخه لس کلنونه تير شويدي د دولت څخه دا هيله لرو چې دا پريکړه ليک په عمل کې پلي او مخالفينو سره د سولی د راوستلو له پاره د ښځو د ګډون زمينه برابره کړي .
د ملګرو ملتوسازمان شورا ۱۳۲۵ پريکړه ليک له دولتونو غواړي چې ښځې بايد به دولتي لوړو پستونو کې وګمارل شي . د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون د دي پريکړی له مخي د افغانستان اسلامی جمهوری دولت څخه غواړي چې د کابينی ځيني څوکي دي د کابينی د بشپړتيا په دوام ښځو ته ځانګړې کړې .

نا امنی او وسله والي شخړي د ښځو پر سر کلک ګذار دی په هيواد کې د روانو شخړو اصلي قرباني ښځي دي چې په جګړو کې د ښکيلو کسانو د نه پاملرني له امله دي موږ د جګړو له ښکيلو خواو غواړو چې په وسله والو شخړو کې د بشري حقونونړيوال نورمونه د ښځو د حقونو په اړه په پام کې ولري او رعايت يی کړي .
د ملګرو ملتو د امنيت شورا پريکړه ليک هم په دي امر ټينګارکوي او ټولو خواو يی غوښتي چې د ښځو او انجونو د دفاع په اړه د ښځو پر وړاندی تاوتريخوالي ، جنسي تيري ، او د تبيعضونو نور ډولونه او په وسله والو شخړوپه مهال سپکاوي ، ځانګړی تدبيرونه ونيسي .

وړانديزونه :

۱ ۰ کميسيون په جدی ډول د افغانستان له حکومت څخه غواړی چې د پخلايني د بهير په اړه نه يوازی چې له ښځو سره مشوره وشي بلکې ښځې دي د مذاکرو پر ميزونو په فعاله توګه شتون ولري .
۲ ۰ کميسيون د افغانستان له دولته په کلکه توګه غواړي چې د امنيت د تامين ، دايمی سولې له پاره نه بايد ، د بشری حقونو او عدالت اصل د مخالفانو سره د سولي د بهير قرباني کړې .
۳ ۰ کميسيون د افغانستان له دولته غواړې چې ترڅو د ښځو پر وړاندي د تاوتريخوالی پر ضد مبارزه وکړي او د ښځو عدالت ته د لاسرسی زمينه برابره کړې بايد په دي برخه کې عملی اغيزمنه کړنلار طرح او تطبيق کړی ړ
۴ ۰ کميسيون د افغانستان له دولته غواړې چې د ښځود ښووني او روزني د لاسرسی له پاره هڅي وکړي او د هري ممکني لارې دهغوي د ښووني او روزني حق برابراو تامين کړې .

د ډيرو مالوماتو له پاره په دي شميرو اړيکي ونيسي ۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰۶۷ ، ۰۰۹۳۲۰۲۵۰۰۶۷۷